# د ټولو زده کوونکو خدمت کول

## زمونږ اساسي ارزښتونه

تړاو

اړوندیت

غږ

مقاومت

اتلولي

نوښت

ټولنیز او احساساتي ذکاوت

د فدړالي حکومت لخوا د کډوالۍ د پلي کولو د احتمالي اقداماتو په اړه د زده کوونکو او زمونږ د ښوونځیو د ټولنو په حقونو کې دلچسپي زیاته شوې ده.

په سان هوان یونیفایډ کې زمونږ اصلي ارزښتونه د تړاو شامل دي، په کومو کې چې مونږ یوه ټولنه جوړوو ترڅو زمونږ د کلتورونو، هویتونو او وړتیاوو تنوع ته په رښتینې درناوي سره ښه راغلاست وویل شي او ټولشموله چاپیریال وده وکړي. اتلولي، یو بل اساسي ارزښت، په دې معنی دی چې مونږ د هغو کسانو ملاتړ او دفاع کوو چې زمونږ د سان هوان یونیفایډ ټولنه کې په غیر متناسب ډول د شرایطو له خوا د دوی د کنټرول څخه بهر اغیزمن شوي یا له پامه غورځول شوي دي.

دا هغه ارزښتونه دي چې زمونږ حوزه به یې د ټولو زده کوونکو د دوامداره ملاتړ لپاره د لارښود په توګه وکاروي، پرته له دې چې د عمر، نژاد، جنسي تمایل، جندر هویت یا د کډوالۍ حالت څه وي. زمونږ تمرکز د سان هوان یونیفایډ ټولنې سره په ګډه د ملاتړ کوونکو زده کړیزو تجربو په رامنځته کولو باندې دی، چې په هغه کې ټول زده کوونکي، کورنۍ او کارکوونکي وده وکړي او بریالي شي. مونږ به هڅه وکړو چې یو داسې ښوونیز چاپېریال برابر کړو چې له اندېښنې او ګډوډۍ څخه پاک وي.

لاندې پوښتنې او ځوابونه چمتو شوي ترڅو د سان هوان یونیفایډ د کارکوونکو لپاره د زده کوونکو او زمونږ د ښوونیزو ټولنو د حقونو په اړه مالومات وړکړي. پوښتنې، وړاندیزونه او نظریات باید خپل سوپروایزر ته یا په ژوندې بڼه د دې ویب پاڼې [http://www.sanjuan.edu/immigration](http://www.sanjuan.edu/immigration) له لیارې ولیږل شي.

Updated Jan. 2025

# د ښوونځي او کارکوونکو مسوولیتونه

**پوښتنه: آیا کارکوونکي باید حتماً د کډوالۍ او ګمرکونو د تنفید ادارې (ICE) یا نورو حکومتي چارواکو ته، کیمپس ته د داخلیدو اجازه ورکړي؟**

ځواب: ښوونیزې حوزې دا حق لري چې د زده کړې په چاپیریال کې د ګډوډۍ اندازه رامحدوده کړي او د خپلو کارکوونکو او زده کوونکو د خوندیتوب ډاډ ترلاسه کړي، چې ممکن د ښوونځی په ساعتونو کې یو فرد کیمپس ته د لاسرسي څخه منع کول هم پدې کې شامل وي.

په هغه صورت کې چې ICE یا نور حکومتي چارواکي پریکړه وکړي چې په ښوونځیو کې د کډوالۍ اړوند پلټنې پیل کړي، د ښوونځي کارکوونکي باید د ښوونځي اړوند لازمې کړنلارې تعقیب کړي، چې پکې د مېلمنو څخه د لاسلیک کولو غوښتنه کول، پېژندګلوي وړاندې کول او د ځایي مدیر یا سرپرست څخه د داخلې لپاره اړین تصویب تایید ترلاسه کول شامل دي. که یو حکومتي افسر یو حکم یا د محکمې امر وړاندې کړي، نو ځايي مدیر باید سمدستي د قانوني خدماتو سره په **971 - 7110 (916)** اړیکه ونیسي.

هغه ښوونیزې حوزې چې غیر کډوال، نړیوال زده کوونکي (څوک چې په متحده ایالاتو کې د F-1 یا M-1 ویزې لاندې دي) اجازه ورکوي چې د ICE د "زده کوونکي او تبادلې مېلمه پروګرام" (Student and Exchange Visitor Program) یا SEVP له لارې په خپلو پروګرامونو کې شامل شي. د (SEVP) زده کوونکي هر وخت د SEVP چارواکو لخوا په ساحه کې لیدل کیږي او باید چارواکو ته د داسې زده کوونکو په اړه ځینې اسناد وړاندې کړي. البته، د SEVP چارواکي اجازه نلري چې د مشکوکو غیرقانوني زده کوونکو اسناد وګوري.

**پوښتنه: ایا مونږ مکلف یو چې ICE، پولیسو یا نورو دولتي چارواکو ته د زده کوونکي اسنادو ته د لاسرسي اجازه ورکړو؟**

ځواب: د زده‌کوونکو اسنادو ته لاسرسی باید یوازې هغه وخت اجازه لري که غوښتونکې اداره د فدرالي تعلیمي حقوقو او محرمیت قانون (FERPA) یا د کډوالۍ قوانینو او مقرراتو سره سم، د محکمې معتبر حکم یا احضار لیک ولري. دا ډول ټولې غوښتنې باید د لارښوونې لپاره قانوني خدماتو ته راجع شي.

په هغو مواردو کې چیرې چې اسناد ورکول کیږي، حوزه باید معقولې هڅې وکړي چې د اسنادو له افشأ کېدو څخه د مخه والدین یا مستحق زده‌کوونکي خبر کړي، ترڅو هغوی د حفاظتي اقدام لپاره فرصت ولري، پرته له دې چې د محکمې امر یا استحضار لیک د فدرالي منصفه هیئت (Jury) د تحقیقاتو، د قانون د پلي کولو هدف یا د کورنۍ او نړیوالې ترهګرۍ سره تړاو ولري.

San Juan Unified
SCHOOL DISTRICT

# د زده کوونکي حقوق

**پوښتنه: آیا بې اسناده زده کوونکي په قانوني لحاظ ښوونځیو ته تلاې شي؟**

ځواب: هو، هغه بې اسناد زده کوونکي چې د ۶ او ۱۸ کالو ترمنځ عمر لري نه یوازې دا چې د متحده ایالاتو په ښوونځیو کې د زده کړې حق لري، بلکه د جبري حاضرې قوانینو مطابق بې ښوونځی ته تلل یې اړین دي. د متحده ایالاتو سترې محکمې پرېکړه کړې چې هیڅ ایالت نشي کولی د خپل ایالت دننه ژوند کوونکي ماشوم ته د بنسټیزې عامه زده کړې د حق څخه انکار وکړي، که هغه په متحده ایالاتو کې په قانوني یا غیر قانوني توګه اوسېږي.

**پوښتنه: سان هوان یونیفائیډ اوسمهال کوم ډول د وړکتون څخه تر دولسم (K-12) ټولګې د زده کونکي معلومات راټولوي، او آیا دا به د کډوالۍ د وضعیت په اړه معلومات ورکړي؟**

ځواب: ښوونیزې حوزې اړ نه دي او د سان وان یونیفایډ ښوونځي د زده کوونکي د کډوالۍ یا قانوني وضعیت په اړه معلومات نه راټولوي، پرته له هغو غیر کډوالو، نړیوالو زده کوونکو څخه چې د ځانګړو ویزو لاندې په یو ښوونیز پروګرام کې شامل شوي وي. ښوونځیو ته یوازې اړتیا ده هغه معلومات راټول کړي چې د داخلې ځینې اړتیاوې پوره کړي، لکه د استوګنې ثبوت، چې هیڅ یو یې د قانوني کډوالۍ د وضعیت یا ټولنیز امنیت د شمیرو د ثبوت غوښتنه نه کوي. ښوونځیو ته اړتیا ده چې د زده کوونکي د والدینو یا قانوني سرپرست څخه مختلف اسناد قبول کړي ترڅو د ماشوم د عمر یا استوګنه ثابته کړي، او ښوونځي اړ نه دي چې د هغه سند نقل وساتي چې د ماشوم د عمر د ثبوت په توګه کارول کیږي.

لکه څرنګه چې د کالیفورنیا د ښوونې او روزنې د څانګې لخوا غوښتل شوي، حوزه د زده کوونکو د زیږون هیوادونه راټولوي او راپور ورکوي تر څو په ایالت کې د کډوالو او انګلیسی زده کوونکو شمیر محاسبه کړي او د فدرالي هر زده کوونکی بریالیتوب قانون (federal Every Student Succeeds Act.) د Title III شرایطو سره مطابقت ډاډمن کړي.

**پوښتنه: مونږ د لویانو د زده کړې د زده کوونکو په اړه کوم معلومات راټولوو؟**

ځواب: سان هوان یونیفایډ اړتیا نلري او د لویانو زده کوونکو د کډوالۍ د وضعیت په اړه معلومات نه راټولوي.

**پوښتنه: که چېرې حوزه د عامه اسنادو د قانون (PRA) غوښتنه ترلاسه کړي، د زده کونکي کوم معلومات شریکیږي او کوم معلومات ساتل کیږي؟**

ځواب: فدرالي او ایالتي قوانین د زده کوونکي د تعلیمي اسنادو او شخصي معلوماتو ساتنه کوي. د کورنۍ د تعلیمي حقونو او محرمیت قانون (FERPA) د عامه اسنادو د قوانینو پر وړاندې لومړیتوب لري او اړ دي چې د ښوونیزو حوزو ټول شخصي پېژندل کیدونکو زده کوونکو معلومات په تعلیمي اسنادو کې وساتي. هر ډول او ټول اسناد، د برېښنالیکونو او ټولیزو فایلونو په شمول، په عمومي توګه د افشا کیدو څخه مستثنی دي یا د شخصي پیژندنې وړ معلوماتو د افشا ء کیدو څخه د مخنیوي لپاره د اصلاح وړ دي.

# د والدینو حقوق

ټول والدین، پرته له دې چې د دوی د کډوالۍ وضعیت څه وي، د خپلو ماشومانو په زده کړو کې د ګډون حق لري او هڅول کیږي چې همداسې وکړي. د تابعیت یا قانوني حیثیت ثبوت د هغوی د ماشومانو د داخلولو یا د ښوونځي په فعالیتونو کې د ګډون لپاره کوم شرط نه دی.

**پوښتنه: آیا بې اسناده والدین اړ دي چې په ښوونځي کې د رضاکارانه خدمت لپاره د ګوتو نښې اخیستنې (فنګرپرنټ) پروسه ترسره کړي؟**

ځواب: سان هوان یونیفایډ غواړي ټول هغه رضاکاران چې کیدای شي د زده کوونکو سره پاتې شي په داسې حال کې چې د ښوونځي د کارکوونکو لخوا د هر وخت لپاره د څارنې وړ نه وي د ګوتو نښې واخیستل شي. د ښوونځي کارکوونکي باید پوه شي چې د هغوي کوم رضاء کار د ګوتو نښان لري او کوم یې نلری. د نورو معلوماتو لپاره دې ویب پاڼې [www.sanjuan.edu/volunteer](www.sanjuan.edu/volunteer) ته مراجعه وکړئ.

**پوښتنه: که چیرې یو پلار یا مور د کډوالۍ د نافذه قوانینو په نتیجه کې په توقیف کې وي، آیا د ښوونځي کارکوونکي اړ دي چې زده کوونکی د ICE یا د کډوالۍ نورو چارواکو ته خوشي کړي؟**

ځواب: **نه**، د سان هوان یونیفایډ ښوونځي به زده کوونکي یوازې هغه لوبانو ته خوشې کوي یا سپاري چې د والدینو/قانوني سرپرستانو او بیړنیو اړیکو په توګه اجازه ورکړل شوې ده. هغه والدین چې دا ډول اندیښنې لري باید وهڅول شي چې خپلې بیړنۍ اړیکې تازه وساتي او مخکې له مخکې ترتیبات ونیسي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دوی خپلو ماشومانو ته اجازه ورکولی شي چې د یوه مجاز پالونکي یا لوې ته خوشې یا وسپارل شي.

**لاندې سرچینې کولی شي د کډوالو کورنیو سره د نیولو یا شړلو پر وړاندې مرسته وکړي:**

- د کډوالۍ او ګمرکونو د تنفیذ اداره (ICE) [د بندیانو موندونکي (detainee locator)](detainee locator). لطفاً په یاد ولرئ: دا ویب پاڼه یوازې د هغو کسانو د موندلو لپاره په نظر کې نیول شوې چې مخکې له مخکې نیول شوي دي، او د عمومي کډوالۍ وضعیت د پوښتنو لپاره نه دی.
- په شخصي کارونو کې د کډوالۍ وکیلان، تصدیق شوي استازي (چې کډوالو سره د کډوالۍ په اړونده چارو کې مرسته کوي)، یا قانوني مرستندویه سازمانونه:
  - د کالیفورنیا د ایالت بار وکیل لټون: [http://www.calbar.ca.gov/Attorneys](http://www.calbar.ca.gov/Attorneys)
  - [د کالیفورنیا هغه سازمانونه (California organizations)](California organizations) چې د کډوالۍ د استیناف بورډ (BIA) لخوا منل شوي ترڅو د کورني امنیت د ریاست (DHS) او د کډوالۍ بیاکتنې اجرایوي دفتر (EOIR) پر وړاندې د کډوالو استازیتوب وکړي.
  - [د کالیفورنیا محکمه د خپل ځان د مرستې مرکزونه](د کالیفورنیا محکمه د خپل ځان د مرستې مرکزونه) یا [California Courts Self-Help Centers](California Courts Self-Help Centers)
  - د [حقوق مرستو دفترونه او د وکیل د راجع کولو خدمتونه Legal-aid offices and lawyer-referral services](Legal-aid offices and lawyer-referral services)

د والدینو یا قانوني سرپرست د اصلي هېواد قونصلګري یا سفارت

San Juan Unified SCHOOL DISTRICT

# سرچيني او ملاتړ

- Board Policy 5145.13 - Response to Immigration Enforcement
- AR 5145.14 - Response to Immigration Enforcement
- California Office of the Attorney General guide for students and families
- State of California immigration resources webpage
- District Protocol for Immigration Customs Enforcement (ICE)
- Printable Know Your Rights cards in different languages
- Family Preparedness Plan
- Student Academic Records and Transcript Request
- Supporting Undocumented Students in the Classroom
- **Community Legal Assistance Resources and Organizations:**

International Rescue Committee (IRC)
916-482-0120
2020 Hurley Way, Ste 420
Sacramento, CA 95825

La Familia Counseling Center
916-452-3601
3301 37th Ave
Sacramento, CA 95824

Sacramento Food Bank and Family Services
916-313-7604
1951 Bell Ave
Sacramento, CA 95838

California Rural Legal Assistance Foundation
916-446-7904
2210 K Street
Sacramento, CA 95816

McGeorge School of Law
Community Legal Services clinics
916-340-6080
2925 34th street
Sacramento, CA 95817

CAIR Sacramento
916-441-6269
717 K St, Ste 217,
Sacramento, CA 95814

Refugee Enrichment and Development Association (REDA)
916-500-4299
3425 Arden Way
Sacramento, CA 95825

**د پوښتنو يا مرستې لپاره، کارکوونکی او کورنۍ کولی شي د (FACE) له دفتر سره په 7929-971 - 916 يا د نوي راغلو ملاتړي ټيم سره په 8568 - 979 - 916 اړيکه ونيسي. دواړه ټيمونه کولی شي کورنيو سره په ښوونځيو کې په کار کولو سره مرسته وکړي ترڅو اندېښنې لرې کړی يا د ټولنې سرچينو سره اړيکه ونيسی.**

San Juan Unified
SCHOOL DISTRICT